بســــــــــــمل

۱۱/۰۲/۱۹

## دجرمني په مونشن ښار کې  دیولوی او بریالي لاریون مفصل او مصور رپوټ




ګرانولوستونکو!

د رواني فبروري میاشتې د دوهمې نېټې لـه خبرتیا سره سم  د فبروري په ځلورمه او پنځمه نېټه د جرمني په

مونشن ښارکې دناټونړیوال امنیتي کنفرانس په ضد د نوي ۹۰ مختلیفو سیاسي، کولتوري او نورو ټولنیزو

خوځښتونو په نوبت یو لوی لاریون ترسره شو .

ددې بریالي لاریون په دا سبا مو تاسوته یو لنډه کی رپوټ له دوو تصویرونو سره یوځای دافغان درنو ویبپاڼو او رسنیو له لارې وړاندې کړی وخو موږ د ځینو عمده علتونوله کبله تاسو ته د لاریون په سبا مفصل رپوټ درنه کړای شومثلاً:

ـ دتصویرونو او ویډیوي فلم دحجم دروندوالي زموږ کار وځنډاوه .

ـ دمونشن په بایرش هوف هوټل کې د امریکا د دایمي اډو په اړوند له کرزي سره د ناټواستازو د پټو مشورو کنګوسي هم ددې سبب شوی ځومالومه شي چې په دې اړوند د لاریونوالو اندېښنې سمې دي اوکه نه .

ـ دیادواډو په اړوند دافغاناناوډسیمي هېوادونو غبرګونونو ته مو هم انتظار وکړ .

ـ په عربي نړۍ کې دلاریونونوسلسلې او په تېره بیا ددیکتاتور حسن مبارک د تېښتې انتظارمو ځکه وکړ چې زموږ دلاریون یو شمېرمصري ملګري مصر ته ولاړل موږ دهغو دسترګو لیدلې حال ته معطل وو .

دلمړۍ ستونځې په برخه کې خو زموږ ملګرو ترخپله وسه وکړای شول چې دتصویرونو حجم کم او خپرېدو ته برابرکړي د ویډیویي برخو د حجم کمول له تخنیکي اړخه زموږ ملـــګرو ته ستونځمن و خو له هغه سره سره د لاریون یوه ویډیویي برخه دبېلګې په ډول دافغان درنواو هېوادپالو ویبپاڼوچلوونکوپه مټ تاسو ته وړاندې کوو هیله ده چې دتخنیکي امکان په صورت کې یې تاسو ته خپره کړي .

د دوهم مورد په اړوند دومره وېلای شم چې دلاریون والو اندېښنې په ځای وې ددایمي اډوخبره حامد کرزي لا دولسمشري ټاکنو په درشل کې له امریکایانوسره منلې وه ځکه خو یې غبرګ عبدالله په غبرګو پښو کېښناوه خو دا چې اوس حامدکرزی دې خبرې ته نوی رنګ ورکوي داکومه نوې خبره نه ده ځکه چې هغه داسې رنګمالی هر وخت کړې دي .

دامریکا ددایمي اډو په اړوند دافغانانو اوسیمي دهېوادونوغبرګونونه هم جوت شول که دسیمي هېوادونو له موقف څخه راتېر او دخپلو افغانانو نظریاتو ته ځیر شو نو دا دی بیا د شمال جنایتکارې ټلوالې خپله ریاکاري ،وطنفروشي، جنایتکاري اوجعلکاري وښوده .

دکرزي پخواني مرستیال په میلیونونو ډالروتورن ضیأمسعودله اډوڅخه ملاتړ وکړ خوتورن اسمعیل بیامنفي غبرګون وښوددابیاداسې کیسه شوه لکه نظاریان چې هم یې دولت ترولکه لاندې دی او هم ځان اپزیسیون بولي .

دوروستي مورد په برخه کې به دومره ووایم چې دعربي نړۍ څپې به دېبرو ونو پاڼې ورژوي په زورکلي نه کیږي هغه ورځ لرې نه ده چې کرېدلی او بې عزته شوی افغان ولس دهېوادپه ګوټ ګوټ کې یو ځل بیادبابا تاریخ را ژوندی او پردي دهغو له ګوډاګیانو سره یو ځای په ځغاستو کړي .

دا هم دیادولو وړدی چې په اوسنیو شرایطو کې نه دکابل اداره د دایمي اډو دمنلو صلاحیت لري او نه تش په نامه دکرزي مسخریي لویه جرګه، ددایمي اډو په اړوند به هغه وخت پرېکړه کیږي چې دافغانانوله خوښې سره سم یو عادل او قاطع حکومت رامینځ ته شي.

دابحث نورنه اوږدوم راځم ستاسوخدمت ته په لاندې ډول سره مفصل اومصوير رپوټ وړاندې کوم خومخکې له دې چې زما دسترګولیدلی حال ولیکم لمړی دهغې وروستنۍ اعلامې پښتوژباړه ستاسو درنو لوستونکو حضورته وړاندې کوم چې بناغلي کلاوس شریر لیکلې اودلاریون المانې مسؤلینو موږ ته رالیږلې ده هیله ده چې تاسو ته په زړه پورې وي :

**دناټو امنیتي کنفرانس په ضد د عمل اتحادیي وروستنی اعلامیه**

ځوورځې مخکې په مونشن ښار کې دنړیوال امنیتي کنفرانس په ضد خورا په زړه پورې لاریون تر سره شو .
پدې لاریون کې له ۵۰۰۰ پنځو زرونارینه او ښځینه کسانو څخه زیاتوونډه لرله خو پولیس دمعمول په ډول دداسې حرکتونو کمیت کم ښیي .
دګڼ شمېر سازمانونو د لاریون دپرانستنې په وینا کې ښاغلي والتر لیستل، دعمل یوالي لاریون ویاند وویل :
«موږ خپل امنیت دناټو دسیاسیونو، دجګړو ستراتیژیستانواو دوسلو سوداګرو په لاس ځکه نه ورکوو چې د دوی لاسونه په وینو سره دي د دوی په لاس تنظیم شوو جګړو په یوګوسـلاویا، افغـانستان او عراق کې په سلګونو زره کسان قرباني کړل .
له افغانستان څخه دالماني او ناټو سرتېرو ایستل دلاریونوالو مرکزي غوښتنه ځرګندوله .
په دې لوی اعتراضي لاریون کې افغانانو، حبشیانو، سومالیایانو او مصریانو ښه فعال ګډون درلود .
ویناوالو خپل کلک ملاتړ د نړۍ له هغو میلیونونو وګړو څخه وښود چې دانساني کرامت د خونديي کېدو او مستبدو رژیمونو په نړېدو کې ونده لري .
والتر لیستل، د عمل یوالي لاریون ویاند، لـه افغانستان څخه د نـوو المـاني سرتېرو دراېستلو مسئله لـه چل او فرېب څخه ډکه وبلله وېل د(المان ددفاع وزیر) ګوتنبرګ اودناټو پوځي چارواکي له افغانستان څخه دپوځونو را ایستل په حالاتو پورې تړلي بولي خو دا یوازې یوه پلمه ده نه کوم بل څه .
موږ وایو:
« الماني او نور بهرني ټول پوځونه دي له افغانستان څخه ووزي او بې له ځنډه دي ووزي !»
والتر لیستل وویل :
«زموږ لاریون نه یوازې دجنګي ستراتیژستانوپه وړانـدې دی بلکې په نړۍ کې دهغودیموکراتوخوځښتونوسره دیوالي لپاره هم دی، چې په مصر، تونس، یمن او نورو عربو ملکونو کې فعالیت کوي .
داسیمیز اعتراضچیان هلته نه یوازې په سیمه کې نمونیي دي بلکې دنړۍ په کچه داستثمار په وړانـدې هم مقاومت کوي .»
هغه دالمان دولت اوناټو نور غړي هیوادونه دجنایتکارانود رژیمونو ملاتړي وبلل او زیاته یې کړه چې دوی د مصر او نورو عربو هیوادونو له لاریونوالو څخه هسې دسر په ښورولو ملاتړ کوي .
دلاریون په ورستنیو ویناوالو کې " توبیاز فلیوګـر" چې په تیوبینـــګن کې د جنګ طلبي رسنیو مسؤلیت په غاړه لـري" ســویم دګلدلین" د المان په پارلمان کې دکیڼ اړخواستازي " اویګن دریورمن"، د روانـي چارو تکړه عالم او د دیني علومو یو کارپوه خپلې ویناوې واورولې .
توبیاز فلیوګر از دالمان دولت په بې رحمانه منافقت نیوکې وکړې وېل ولې دعربي اعتراضچیانو په اړوند صداقت نه لري .
هغه وویل لسګونه کلونه کیږي چې په عربي هیوادونوکې دقدرت په ګدۍ ناست کسان دلویدیځو هیوادونو په ځانګړي ډول دالمان دولت لخوا تقویه، په وسلوملبس او په پولیسي ساحه کې حمایه کیږي تر ځوولسیز خوځښتونه وځپي هغه زیاته کړه چې لا اوس هم دالمان په پارلمان کې وېل کیږي چې الماني سرتیري دافغان ولس دخوشبختي لپاره تللي دي .
نـه نـه! داسـې نـه ده. کـوم کـار چـې الماني سرتیري پـه افغانستان کـې پـه مـخ وړي دایوازی دجګړیز او اشغالګر سیاست چاري دي چې دوی یې په مخ وړي .

ناټو په افغانستان کې په جنایت مرتکبه ده زه وایم ناټو د جنایتکارانوسازمان دی له دې کبله له افغانستان څخه دالماني پوځیانودبېرني خروج غوښتنه کوم .

موږ نه غواړ چې المانی اردو داقتصادي کټو لپاره وکارول شي . موږ دا دجګړو اردو نه غواړو. موږ غواړو المانی پوځ ګام په ګام بې وسلې شي داهم نه غواړو چې دالماني اردو تبلغات ښونځیوته ورسیږي ښوونځي دي داردو له نفوذ او تاثر څخه پاک وي !

سویم دګدلین هم دالمان دولت تر نیوکو لاندې ونیو او د عربي مستبدو حکمرانانو جرمي شریک یې وباله داسي یې وویل :

«نه یوازي له مختلیفوګوندونومسیحي دموکراتانو اوآزادودیموکراتانوڅخه تشکیل شوی دالمان ائتلافي حکومت عربي دیکتاتوران حمایه کوي بلکې له دې څخه دمخه دسرو او شنو ګوندونو ائتلافي حکومت هم داسي کار کاوه.»

مبارکیان،بن علیان،دمراکش پاچاهان اودسعودي عربستان شهزادګان ټول ددوی نژدې دوستان وواودي .

اوس هغه وخت رارسېدلی چې دالمان په پارلمان کې دجګړې په ملاتړ،دنړۍ دسیاسي سرکوبي اودالمان د اکثریت وګړو په خلاف لاسونه پورته نه کړو څکه چې دا لوی اکثریت دافغانستان جګړه ردوي .

دا لوی وګړنیز اکثریت په حبشه او سومالیا کې کم عمره سرتیري نه غواړي . دالوی اکثریت نه غواړي چې دنړۍ خلګ د دوی په نوم وځپل شي او یا دنړۍ خلګ د پانګوالي قرباني شي . زموږ د وګړودا لوی اکثریت دنړۍ استثمارپه اصطلاح ددریمي نړۍ استثمار ردوي دا لوی اکثریت نه غواړي چې په نړۍ کې یو ملیارد وګړي لوږې تېري کړي په داسي حال کې چې موږ ټولې نړۍ ته وسلې ور لیږو .

موږ د دې لوی اکثریت تر څنګ ولاړ یو له همدې کبله وایوچي :

« جګړه شیندونکي ،جګړه غوښتونکي اودکتاتوران نه غواړو!»

ښاغلي" اویګن دریورمن " پخپله وینا کې وویل :

«موږ دلته په مونشن ښارکې راټول شوي یو څو اعلان کړو چې دبرلین په پارلمان اودبایرش هوف هوټل په مینځ کې نن هغه استازي ناست دي چې له ولسونو څخه استازیتوب نه کوي .

په افغانستان کې له لس کلنوبې رحمانه وژنو څخه را وروسته اوس د هغه څه ویلو وخت رارسېدلی دی چې ویې وایو اوباید ووېل شي :

« له افغانستان څخه ووزۍ او دسولې سیاست مخ ته کړئ!»

«ټول خلګ پوهیږي چې داروپا او امریکا امنیت له افغانستان څخه نه تهدیدیږي . دوسوه کاله وشوو چې افغانستان په کوم بل چاجګړه نه ده تحمیل کړې خو په دې دووپیړیوکې پنځه لوې جګړې چې د اروپایي قدرتونو لخوا په افغانستان تحمیل شوې دا یوازې افغانانو په خپل پوستکي اوروح لمس کړې .

هغه ،امنیت ، چې په بهرنی نړۍ کې تل سیاستوالو ګواښلی په کور دننه اوبهر د عادي المانانو له حراست څخه بې برخې دی .

په اقتصادي او مالي برخه کې د ،امنیت ، حراست کوو خوزل او وژل کېدل په دغه لار کې دهیڅچا لپاره نه غواړو دا دافغانستان جګړه چې په دروغو پیل شوه همداسي په دروغو لا دوام مومي .

دالمان په پارلمان کې پرله پسي چیغې وهلې کیږي چې موږ په افغانستان کې پلونه، څاګان، کوړونه او ښوونځي جوړوو .

که داسي وای اوس به افغانستان د سولي جنت گرزېدلای وای په پاکستان کي دسيلاب ځپلو لپاره حتی دوه ملیارده ډالر میسر نه شول خو تر څنګ یي په افغانستان کي ۳۰۰ دری سوه ملیارده ډالر امریکایانو په جګړه ولګول .

په داسي نا متناسبوسیاستونوچلولوسره خوځوک دانسانانوپه مینځ کي نه یوازې محبوب کېدلای نه شي بلکي منفور کیږي .

موږ خو هلته په افغانستان کي څه شی نه دي ورک کړی چي دموندلو په لټه کي یي واوسو.

آیا دادافغانستان جګړه د تېلونللیکو، د چین اوهند مینځ ته د پښودځای موندلواو جیوستراتیژیکو موخو لپاره نه ده؟

آیا د لوړو توقعاتودپوره کولو لپاره پرله پسي باید انسان وژنه وشي ؟

آیا موږ غواړو په هغه فرش ګامونه اوچت کړوچي دانسانانو په وینو لوند وي ؟

دا جګړه یو جنایت دی او بریالیتوب هم نه لري .

ناټو د دنیا په هغه سر کي مداخله کوي چي باید ویې نه کړي .

آیا دا مداخلي بي له تېلو ،ډبرو، اوسپینو، یورانیمو څخه دکوم بل نېک کار لپاره کیږي؟

موږ خو دټولي نړی مالکان نه یو موږ بایددنړی له نورو وګړو څخه وپوښتو چي موږ منئ ؟

دالمان ملیتارستي سیاست چي د دفاع وزیر ښاغلی ګوتنبرګ ورڅخه استازیتوب کوي یوازې په دروغو ولاړ دی ، یوازې ظاهرأ انساني رنګ ورکوي .

آیا دپانګولي او پوځي ګټو لپاره په دې لټه کي دی چي نړی دیوې ګلوبالي جګړې په ډګر بدله کړي، زلمیانو ته فریب ورکړي، . . . . تل د،اتلولي، نغمي وغږوي . . . . موږ باید زلمیانو ته ووایوچي :

«په داسي چاروسره خپل هېواد ته خدمت نه شي کولای، یوازې تاسي اخلي چي انسانان ووژنئ تاسي له داسي چارو څخه سرکشي وکړئ!»

دښاغلي : Claus Schreer دليکني ژباړه په پښتو ژبه




ښاغلی اویګن دریورمن خپله وینا اوروي د ده ښی خوا ته دلاریون ویاند ښاغلی والتر لیستل ناست دی دستیج مخي ته په یوتصویرکي دارغنداب ولسوالي د یو کلي هغه حالت وینئ چي دسوله ساتو؟؟لخوا په یوه شپه کي په نیست بدل شو ددې تصویر په کوزه برخه کي دتپل شوي حامدکرزي کارتون ډوله تصویرله چپنې سره وینئ .

ګرانو خویندو او ورونو!

په پورتنی اعلامیه او ریوټ کي به تاسویوازې دویناوالو نظریات او غوښتني لوستي وي خو ما بیا هر څه په سترګو لیدل او په غوږو مي اوریدل پورتني ویناوال په داسي پر له پسي چکچکو بدرګه کیدل چي د مارین پلاتڅ د شاوخوا ودانیو له بامونوڅخه به کوترې په الوتلو شوي د تولو وینا والو دي کورونه ودان وي زموږ د کرېدلي ولس او هیواد دردونه یي بیانول زه دښاغلي اویګن دریورمن ویناخورا متاثرکړی وم هغه هره خبره له فاکت اودلیل سره یوځای اوروله د۹۰ نوي سازمانونومسؤلیناولاریونوالوداتول په ډېر ښه ډول سره

استقبال کړل .

دلاریون دپورتنیو خوځښتونودیومنظم پلان له مخي دمونشن ښار په زړه مارین پلاتڅ او مونشن ښار په لویو او ورو واټونو کي تر سره شو .

د دي لاریون مخکښان او فعال ګډونوال له المانانو، اتریشانو او سویسانوڅخه وروسته افغانان، حبشیان ، سومالیایان او مصریان وو.

دګډونوالو شمېر څوک له ۵۰۰۰ پنځو تر ۱۰۰۰۰لسو زرو څوک له۹۰۰۰ نهو زرو تر ۱۵۰۰۰پنځلسو زرو پوري بولي خوزما په شخصي نظر اوحساب دګډونوالوشمېرله ۸۰۰۰ اتو زرو تر ۱۳۰۰۰دیارلسوزروپوري بریښېده.

لاريون ته دتاکل شوو واټونو ښې اوکښې خوا، دسيلانيانو، هټۍ والو، پيرودونکو، اوهمداراز د واټونو په سردجګپوړو ودانيو دهغو اوسېدونکوشمېرچې له کړکيو څخه يې د لاريون ننداره کوله له ۳۰۰۰۰دېرشو زرو څخه زيات ښکارېده که ګډونوال اودلاريون نندارچيان ټول شمېرل شوي وای ګمان کوم چې د۵۰۰۰۰پنځوسو زرو په شاوخوا کې به وو .

له پلان سره سم دلاريون په لمړی ورځ دمازديګر له شپږو بجو څخه دشپې تر ۹ نهو بجو پورې د جګړې ضد کولتور د پياوړتا لپاره په مارين پلاتڅ کې تبلغات وشول .

دلاريون په دوهمه او مهمه ورځ ټول ګډونوال د غرمې په يوه بجه مارين پلاتڅ ته راورسېدل د ګډونوالو هر ګروپ له ځانه تبلغاتي وسائيل لرل دلوډسپيکرونو په مرسته يې خپل شعارونه خلګو ته وراورول د دوی مهم شعارونه داسي وو:

ــ الماني او دناټوسرتيري دي ژرتر ژره له افغانستان څخه را ووزي .

ــ ناټو افغانستان ته جګړه وروړي ده .

ــ دهرمملکت تر ځمکې لاندې شتمنی دهغو ولسونو دي چې هغه خاوره يې خپله ده .

ــ ناټو دی له خپلي ولکي لاندي هيوادونو څخه ژر تر ژره ووزي .

ــ موږ دنړی ټولو انسانانو ته په يوه سترګه ګورو.

ــ راځئ چې دنړی په مخ دانسانانو ترمينځ کرکه ورکه کړو.

ــ دناټولګښتونو زموږ ولسونه خوار او بې وسه کړي دي .

ــ موږ او زموږ ماشومان ارام ژوند، درمل او ډوډی ته اړيو.

ــ په افغانستان کې دشمال جنايتکاره ټلواله دکرزي په چينه کې خپل ځان ساتي .

عـــــــزيــــــزانــــــــو!

پورتنيو شعارونو تـه ورتـه شعارونـه نورهم ووزه نـه غواړم ستاسو وخت ونيسم خو ما تـه دا ډېره په زړه پورې وه چې د شمال ټلوالي په سرسرکې يې لمړی درباني، سياف او وريسي د محقق ، فهيم، دوستم، غبرګ عبدالله، خليلي ،قانوني اودا نورو لېوانو نومان ياد او دلوډسپيکرونو په وسيله يې هغوی جنګي جنايتکاران وبلل . تاسوباور وکړئ چې په دې اړوندموږ افغانانو ورسره هيڅ بحث نه وکړی خو دوی دافغانستان لـه حـالاتو داسـي پوره مالومات درلود چې موږ ورته حيران شوو .

دالاريون دغرمې په يوه بجه له مارين پلاتڅ څخه پيل ترڅوچې له ټاکل شوو واټونوڅخه بېرته مارين پلاتڅ ته راګرزېده دماسپښين دری بجې شوې .

هلته په مارين پلاتڅ کې دمتينګ دريځ ستيج لاله پخواڅخه تيارشوی ولکه مخکې مې چې تاسو ته عرض وکړ د ډېروسازمانونو مسؤلينوخپلې ويناوې ګډونوالوته په خپل وار ور واورولې که زه دهر يودخولې خبرې تاسو ته وليکم فکر نه کوم چې په څو ساعتونو کې به دارپوټ تاسو ولوستلای شئ زه هڅه کوم تاسو ته د هغو مخکښو کسانو د خولې يوه يوه خبره وليکم چې په اوږدو اودرنوچکچکوبدرګه شول له هغې جملې څخه يوښاغلي اويګن دريورمن وچې دخپل روان اوپياوړي منطق له مخې يې دلاريون ګډونوال خورا تر اثر لاندې راوستي وو.

ښاغلي کلاوس شرير دهغه دوينا هغه يوه برخه پوره نه ده توضيح کړې ښاغلي اويګن دريورمن داسي وويل :

په دادوو پېړیو کې پنځه ځلې اروپایانو افغانستان ته جګړه وروړه درۍ ځلې انګرېزانو،یو ځل روسانو او پنځم ځل امریکا دخپلې اوږدې ستراتیژي له مخې اروپایي هېوادونه دې جګړې ته ورکش کړل .

ښاغلي دریورمن زموږ په کړېدلي ولس او ګران افغانستان اوږدې خبرې وکړې زموږ ننګیالی افغان ولس یې دېرزیات وستایه .

دعربي نړۍ په روانو حالاتو یې هم خبرې وکړې الماني سیاستوال یې په دې اړوند پېره وبلل دمصر په ارتباط یې هم خبرې وکړې له هغه څخه وروسته په سومالیا ،اتوپیه، یمن او ځینو نورو سیمو وغږېد په مجموع کې یې دلویدځ او په ځانګړي ډول دناټو مداخلې په کلکه وغندلې .

ښاغلی دریورمن یو پیاوړی ارواڅیړونکی او ددې ترڅنګ تیولوږ مانامذهبي زده کړې یې هم کړې دي .




ښاغلی اویګن دریورمن له وینا اورولو وروسته له دریځ څخه راښکته شواودادګډتصویر موسره واخیست



دا تصویر دغرمې په یوه بجه واخیستل شو دا داسې وخت و چې لاریون په ټاکل شوو واټونو ور روان شو



په پورتني تصوير کې داسې ترانسپورتي وسيله وينئ چې هم لوی لوی لوډسپيکرونه نقلوي او هم  په مخکينئ برخه کې دژوندي موزيک اسانتياوې  لرلې



دناټو دظالمانه بمباريو او په کورونودچاپودا ډول تصويرونه  په مختليفو ترانسپورتي وسائيلو نصب شوي و



په پورتني تصوير کې افغان او نور بهرني زلميان د روغبړ په حال کې ليدل کيږي



په دې  تصوير کې دجاپاني سيلانيانو ترشا يو شمير داسي افغانان ښکاري  چې زموږ  د شعارونو په ليدلو سره يې دخوښي احساس وکړ



داتصوير دماسپښين په دريو بجو کله چې لاريون واپس مارين پلاتځ  ته راغبرگ شوواخيستل شو



لاریونوال بیرغونه اوشعارونه په لاس دویناوالو خبري اوري




په دي تصویر کي یو پلاکات  دالماني سرتېرو لخوا مرگ  اوژوبله بیانوي




دا تصویر په داسې وخت کې واخستل شو چې زموږ  ملګرودلاریون په  پای کې  دخپل لاس پلاکاتونه په څمکه اینودل




دلاریون  ویاند ښاغلي  والتر لیستل به هم ویناوال رابلل او هم به یې پخپلو لنډو خبرو کې درانه درانه ګوزارونه کول لکه څنګه چې په تصویر کې ښکاري همداسي قاطع او ځیرک سړی دی

لنډه یې دا چې دلاریون په جریان کې موږ له داسي کسانو سره مخامخ شوو چې په ژوند کې یې نه موږ لیدلي وو او نه مو دوی لیدلي وو.

لکه مخکې مې چې ولیکل د دوی شعارونه ډول ډول او ډېر وو خو موږ دا لاندې مختصر شعارونه په مخ وړل :

ـ موږ سوله غواړو.

ـ نړیوالو! دملي پاڅون پېره به ستاسو په غاړه وي .

ـ موږ بهرمېشتي افغانان دافغانستان ثبات دیو بې پرې نړیوال کنفرانس په دایرېدو کې وینو داسې کنفرانس چې دیوی لنډمهالي اداري په رامینځ ته کولو سره دسولي او امن ځرګ ولګوي ترڅو په آزاده فضأ کې مشروع او روښانو ټاکنو ته لار هواره او افغانستان دثبات او سوکالي پلو ته بوزي .

ـ موږ له بهرنیو هېوادونوسره دمتقابل پرنسیف له مخې دوستانه اړیکي غواړو.

ـ موږ په افغانستان کې قام وژنه نوره نه شو زغملای .

ـ دطالب په نوم د قومي مشرانو وژني، د ښوونځیو نړول او په شمال کې د اربکیو په پلمه د جنایتکارانو بیا سمبالول موږ اندېښمن کړي یو.

یادونــــــــــــــــــه:

د آزاد افغانستان پورټال له اداري ځخه مننه چې دښاغلي کلاوس شریر لیکنه یې په دري ژبه ژباړلې وه همداراز د آزاد افغانستان پورټال له اداري څخه دامننه هم کوو چې دافغانستان دروانو ستونځو په اړوند یې خپله مهمه اعلامیه په الماني او انګلیسي ژبو موږ ته را واستوله د دوی تر څنګ له هغو ګن شمېر کولتوري ټولنو له مسؤلینو څخه هم مننه کوو چې د لاریون په اړوند یې د ملاتړ پیغامونه موږ ته را استولي وو.

زموږ دکولتوري ټولني له باشهامتوزلموڅخه هم مننه کوم چې هم یې په مېړانه دلاریون په طرخ کې شعارونه په مخ وړل ، هم یې رالېږل شوی اعلامي په لاریونوالو وېشلې او هم یې له ټولو لاریونوالو سره ښه چلن وکړ په اخیر کې له لاریونوالو څخه دباندېن مېشتو افغانانو دکولتوري ټولني په استازیتوب دزړه له تله مننه کوم چې زموږ دولس او هېواد لپاره یې ډېری ناري اوسورې وکړې همداراز دالمان له دولت څخه هم ډېره ډېره مننه کوم چې د خپلو پیاوړوپولیسو په مرسته یې موږ لاریونوالو ته ښه شرایط برابر کړي وو رښتیا هم چې دالمان دولت یو غښتلی، د دیموکراسي، هر بهرني او کورني وګړي دامن ساتونکی دی .

په اخیر کې وایم چې :

## خپلواک اوسرلوړی دې وي زموږ ګران افغانستان